هېڅوک بايد له درې لوټو نه په کمو ځان وچ نه کړي

له سلمان رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: مشرکينو مونږ ته وويل چې: زه ستاسې ملګری وينم چې تاسو ته حتی د قضای حاجت زده کړه درکوي، هغه وويل: هو همداسې ده هغه مور منع کړي يو چې زمونږ څخه دې يو تن په ښي لاس استنجا وکړي، يا دا چې د حاجت پر مهال قبلې ته مخ کړي، او لدې يې منع کړې چې يو څوک ځان په خوشايي او هډوکي پاک کړي او فرمايلي يې دي چې: «هېڅوک بايد له درې لوټو نه په کمو ځان وچ نه کړي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

سلمان فارسي رضي الله عنه ويلي چې: مشرکانو به مونږ ته په ريشخند سره ويل: ستاسو نبي تاسو ته هر شی ښودلی دی، تر دې چې څنګه د تشو او ډکو متيازو پر مهال حاجت رفع کړئ! سلمان وويل: هو، مونږ ته يې د قضای حاجت آداب ښوولي؛ لدې څخه يو دا دی چې هغه صلی الله عليه وسلم مونږ له دې منع کړي يو چې له قضای حاجت نه وروسته په ښي لاس سره ځان پاک کړو ترڅو له نجاست څخه وساتل شو او د لاس درناوی وساتل شي، يا دا چې کعبې لور ته د تشو او ډکو متيازو پر مهال مخ کړو، او لدې يې منع فرمايلې ده چې څوک د څارويو په خوشايو، فاضله موادو او هډوکو ځان وچ کړي، او دا چې حاجت رفع کوونکی په ځان پاکوونه کې له دريو کاڼو په کمو بسنه ونه کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10048